# لاربنود

# د عصري غلامۍ کمیټې سره د ښکیلتیا لاربنود

### د نیو ساوت ویلز پارلمان، د عصري غلامۍ کمیټه غواړي له هغو کسانو څخه واوري چې عصري غلامي یې تجربه کړې وي.

دا سند د هغو اشخاصو لپاره لاربنود دی چې غواړي له کمیټې سره لیدنه وکړي او خپلې تجربې ورسره شریکې کړي.

### عصري غلامي څه شی ده؟

د "عصري غلامي" اصطلاح په نیو ساوت ویلز کې یو شمېر جرائم رانغاړي، چې په کې جبري ودونه، جبري کار، غلامي، جنسي غلامي، د انسان قاچاق، د پور له کبله بندي کول، دوکه ورکوونکي ګمارنه، د اعضاوو او نسجونو قاچاق، او د ماشومانو آنلاین جنسي استحصال شامل دي .

### د پارلمان او کمیټې په اړه

د نیو ساوت ویلز پارلمان د خلکو استازیتوب کوي، قوانین جوړوي او د حکومت کړنې څېړي.

د عصري غلامۍ کمیټه یو پارلماني کمیټه ده چې د حکومت او غیر حکومتي ډلو له څو غړو څخه جوړه ده. د دې کمیټې دنده دا ده چې د عصري غلامۍ د مخنیوي او حل لپاره د نیو ساوت ویلز حکومت ته سپارښتنې وړاندې کړي.

### زه څنګه کولی شم ګډون وکړم؟

تاسو کولی شئ خپله تجربه له موږ سره مخامخ شریکه کړئ.
که تاسو غواړئ دا کار وکړئ، نو بریښنالیک واستوئ :
modern.slavery@parliament.nsw.gov.au

مهرباني وکړئ خپل نوم، تخلص، د اړیکې شمېره او د خپلې تجربې څېنې مهم معلومات شامل کړئ – یا هم موږ ته په دې شمېره زنګ ووهئ: 02 9230 3081

که تاسو غواړئ، کولی شئ خپلې تجربې او نظرونه موږ ته په یوه لنډ ایمیل یا لیک کې واستوئ. موږ دې ته "سپارنه" وایو. د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ زموږ د سپارنې د لیکلو لاربنود وګورئ.

### ایا زه کولی شم په محرم ډول ګډون وکړم؟

که تاسو غواړئ، په محرم ډول د ګډون انتخابونه هم شتون لري.

که تاسو غواړئ له کمیټې سره مخامخ خبرې وکړئ، نو تاسو کولی شئ دا کار په محرم ډول یا په عام محضر کې ترسره کړئ.

که تاسو غواړئ کمیټې ته لیک واستوئ، موږ کولی شو ستاسو سپارنه محرمه وساتو، د هغې څېنې برخې خپرې کړو، یا یې په بشپړه توګه زموږ په وېبپاڼه خپره کړو.
کوم معلومات چې تاسو په عام محضر کې شریکوئ، هغه به د کمیټې په وېب پاڼه کې خپاره شي او ښایي د کمیټې په راپور کې به شامل شي، چې انلاین به هم موجود وي .

## لا ډېرمعلومات

د روانو څېړنو په اړه د معلوماتو لپاره له ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ.
د ژباړې په برخه کې د مرستې لپاره د کمیټې له کارکوونکو سره اړیکه ونیسئ.

www.bit.ly/ms-committee

(02) 9230 3081

modern.slavery@parliament.nsw.gov.au

# لاربنود | د عصري غلامۍ کمیټې سره د بنکیلتیا لاربنود

## څه پېښیږي وروسته؟

که تاسو له کمیټې سره د لیدو لپاره خپله علاقه څرګنده کړې وي، نو سکرتریت به له تاسو سره اړیکه ونیسي څو د راتلونکو ګامونو په اړه خبر وشي.
که تاسو کوم لیکلی سپارنه وړاندې کړې وي، سکرتریت به یې ولولي او له تاسو سره به د محرمیت اړوندو مسایلو په اړه خبرې وکړي. وروسته به سکرتریت ستاسو سپارنه کمیټې ته وسپاري.

## کمیټه څه شی لاس ته راوړلی شي؟

کمیټه به د هغو خلکو له تجربو څخه زده کړه وکړي چې د معاصرې غلامۍ تجربه یې کړې وي، څو د نیو ساوت ویلز (NSW) حکومت ته سپارښتنې وړاندې کړي چې څنګه د معاصرې غلامۍ قوانین او پالیسۍ ښه کړای شي، تر څو دا پدیده په راتلونکي کې ودرول او مخه یې ونیول شي.
موږ نه شو کولای چې انفرادي قضیې وڅېړو یا حل یې کړو .

## ایا ملاتړ به شتون ولري؟

موږ پوهیږو چې د معاصرې غلامۍ په اړه خبرې کول بنایي ځینو خلکو ته ستونزمن وي. موږ د ملاتړ لارې چارې لرو د هغو کسانو لپاره چې غواړي له موږ سره خبرې وکړي. موږ کولی شو هر وخت له تاسو سره دا موضوع شریکه کړو.

## په کمیټه کې څوک دي؟

په کمیټې کې د پارلمان ۸ غړي شامل دي:

- جو مک ګیر (خپلواک، د قانون جوړونې مجلس غړی)
- مرستیاله: جینی لیوینګ (ګرینز، د قانون جوړونې مجلس غړې)
- تینا اياد (لیبرال ګوند، د قانون جوړونې مجلس غړې)
- رابرټ بورساک (شوټرز، د قانون جوړونې مجلس غړی)
- ګریګ ډانلي (د آسټرالیا لیبر ګوند، د قانون جوړونې مجلس غړی)
- سارا کیان (د آسټرالیا لیبر ګوند، د قانون جوړونې مجلس غړې)
- ایلین مکډونالډ (لیبرال ګوند، د قانون جوړونې مجلس غړې)
- لینډا ولټز (د آسټرالیا لیبر ګوند، د قانون جوړونې مجلس غړې)

## سکرتریت څوک دی؟

سکرتریت د کمیټې ملاتړ کوي او کولی شي پوښتنې ځواب کړي.
تاسو کولی شئ موږ سره په دې ایمیل ادرس
modern.slavery@parliament.nsw.gov.au یا
02 9230 3081 شمېره اړیکه ونیسئ.

## راپور ورکول، مرسته او ملاتړ

د معاصرې غلامۍ په اړه د راپور ورکولو لپاره

- 1800 FREEDOM سره په 1800 3733366 شمېره اړیکه ونیسئ یا د نیو ساوت ویلز د غلامۍ ضد کمېشنر لخوا د محرم ملاتړ او مرستې لپاره antislavery@dcj.nsw.gov.au ته برېښنالیک و استوئ.
- په بیړني حالت کې: که چېرې تاسو د خپل ځان یا هم د بل شخص د خوندیتوب په اړه اندېښنه لرئ، درې صفر (000) ته زنګ ووهئ.

د قانون پلي کوونکو ادارو ته د راپور ورکولو لپاره

- د نیو ساوت ویلز پولیس: 131 444
- کرایم سټاپرز(Crimestoppers) : 1800 333 000 شمېرې ته زنګ ووهئ یا انلاین رپوټ وکړئ
- د آسټرالیا فدرال پولیس: (131AFP) 131 237 ته زنګ ووهئ یا د دغې ادارې ویب پاڼې ته ولاړ شئ www.afp.gov.au/report-crime

د نورو سرچینو او ملاتړ لیست د کمېټې پر ویب پاڼه کې شتون لري.